که چیري دسولي دا پلان دبوسنیا د صربانو له خوا ومنل شي نو دزیاتومذاکراتو امکانات به رامنځ ته کړي اووضع به له بن بست څخه وتلو ته نژدي شي په عکس ددي به ستونزه نوره هم کړکیچنه شي ، چي په دي اړه برتانیې اوفرانسي ګواښ کړي که چیري دسولي دا پلان دبوسنیا دصربانو له خوا ونه منل شي نو دوي به خپل سرتیري دملګرو ملتوله سوله ساتونکي پوځ څخه وباسي . چي‌دنوموړو هیوادونو داعمل به د سوله ساتونکي پوځ څخه دنورو هیوادونو د سرتیرواېستلو ته زمینه مساعده کړي . انتظار کیږي چي پر بوسنیا دوسلو بندیزبه د ١٩٩٤ میلادي کال تر سپتمبر پوري دوام وکړي ، چي دوسلو دابندیز به دسولي دپروسي د پرمخ بیولو لپاره هیڅ ګټه ونکړي برعکس په سیمه کي به نژادي تصفیې ته چټکتیا ورکړي، خصوصاً په شمال لویدیځي بوسنیا کي په کوم ځاي کي چي د صربانو هدف دادي چي د نیولو وروسته خپل پوزیشن تقویه کړي اودبوسنیا مسلمانان اوکرواتان له هغه ځایه وباسي چي د ١٩٩٢ میلادي کال څخه راپه دیخوا په سلګونو زره دبوسنیا مسلمانان اوکرواتان له دي سیمي څخه ایستل شوي دي اوسیمه ددي نژادپال ګروپ په لاس کي پرېوتي ده . څو په هغو سیموکي چي صربان اکثریت لري دغیر صربانو دمحوه کولو پالیسي په ډېره نرمي سره پر مخ بیول کیږي.

صربانو په دي سیموکي ډېر داسي وحشتناکه صحرایي زندانونه جوړکړي دي چي ساري یې له دوهمي نړیوالي جګړي څخه ترنن پوري نه دي لیدل شوي.

کومي مصؤني سیمۍ چي ملګرو ملتونو جوړي کړي دي دا صرف په ورځ پوري محدودي دي او دشپې له خوا نه ترسترګو کیږي ، دشپې له خوا صربان اکثراً په دي سیمو برغلونه کوي په کومو سیمو کي چي زیاتو خلکو پناه اخیستي ده ،که چیري دسولي پلان قبول نشي نو دبشري مرستو موسسې به هم له دي سیمي څخه ووځي چي په نتیجه کي به یي دبوسنیا د مسلمانانو اوصربانو ترمنځ یوي بلي خونړي جګړي ته شرایط برابرشي . له دي سره سره چي مسلمانانو سره به یې متحدین مرسته وکړي څو داګمان هم کیږي چي دمشترکو ګټو له امله به کرواتان هم په دي جګړي کي برخه واخلي.

له دي ټولو سره سره دصربیا جمهور رئیس اوس دا هڅي پیل کړي چي د ملګرو ملتولخوا دوسلو بندیز له صربیا څخه لیري کړي . دابندیز د ١٩٩٣ میلادي کال دمي په میاشت کي پرصربیاولګیده . نوموړي اوس په دي راضي ښکاري چي دبوسنیا له متعصبو صربانو څخه فاصله پیداکړي کوم چي له هغو څخه یې د یوګوسلاویا دړنګیدو وروسته عملاً او جدي حمایت کړي دي. چي له فضا ... د بوسنیا دصربانو دتلویزیون دځپو ناځاپي ورکیدل ددي یو دلیل کیدلاي شي . میلوسویك اوس په دي لټه کي دي ترڅوپربوسنیا یې صربانو فشار

(٧)مخ

دحضرت ابوذرغفاري (رض) دژوند یوه ګوښه

ش ، بینوا

حضرت ابوذر(رض) یومشهورصحابي دي وروسته دي په لویو علماوو اوزاهدانو کښي شمارشوي حضرت علي (رض) وایي چي ابوذرته داسي علم حاصل دي چي نور خلك دهغي نه عاجز دي هر کله چي دته درسول الله صلي الله علیه وسلم خبرورسید نو خپل ورور یې دتحقیق لپاره مکي ته ولیږه اولارسونوته یې ورته وکړه چي کوم سړي دنبوت دعوه کړي او وایي چي په ما وحي او آسماني خبرونه راځي نو لاړشه دهغه حال معلوم کړه اوخبري اتري یې ښه په غور واوره ورورېي مکي ته راغي اود حالاتو معلومولو نه وروسته خپل وروره یې دابیان وروليږه چي ماولیدل چي رسول الله صلي الله علیه وسلم دښواخلاقو تعلیم ورکوي دهغه خبري نه شاعرانه دي او نه دنجومیانو خبري دي دابوذر (رض) پدي خبره څه تسلي ونشوه پخپله مکي ته روان شو برابر مسجد حرم ته ورسید نه یې له چا نه پوښتنه کوله نه یې رسول الله صلي الله وسلم پیژانده ، ترماښامه مسجد حرم کښي ناست و ، چي دحضرت علي په نظر راغي ،وي لیده چي مسافر دي ، کورته یې له ځان سره بوته اومیلمستیا یې ورته وکړه .

اودهغه دراتلو دسبب هیڅ پوښتنه یې تري ونکړه ،سحر بیا جومات ته راغي اوټوله ورځ یې په دغه حال کښي تیره کړه نه یې پیغمبر صلي الله علیه وسلم پیژانده اونه یې له چانه پوښتنه کوله اودهغه مهمه وجه داوه چي درسول الله صلي الله علیه وسلم سره یې ددښمني قصي ډېري وي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم اودهغه ملاقاتیانو ته خلکو قسم قسم تکلیفونه رسول دابوذر (رض) هم همداخیال و چي صحیح حال به معلوم نه شي .

او وچ په وچه څه تکلیف راته ونه رسیږي په دویم ماښام بیا حضرت علي (رض) خیال وکړ چي دامسافر به دڅه کاریسي راغلي وي هغه به لاله وي پوره شوي نوځکه ایسار شوي دي نو دوباره یې له ځان سره ورودي ته بوته اودشپې تیرولو انتظام یې ورته وکړ په دغه شپه دحضرت علي (رض) د حال معلومولو له پاره وخت ونه میندہ ، په دریمه شپه بیا دغه معامله تکرارشوه نو حضرت علي (رض) ترینه پوښتنه وکړه چي ستاڅه کاردي دکوم ځاي اوڅه دي غرض دي خوابوذر(رض) دصحیح حالاتو سوډلو وعده تري واخسته اوقسم یې ورته وکړاوبیایې خپل هدف ورته ښکاره کړ څو حضرت علي (رض) ورته ووېل چي هغه بیشکه دخداي (ج) رسول دي ، سبا چي زه مسجد حرم ته ځم نو ته هم زما سره ملګري شه زه به دي هلته ورسوم لیکن خبردار چي دپیغمبر صلي الله علیه وسلم دمخالفت ډېرزوردي که په لاره کښي دچا سره مخامخ شوي اوپه تابې څه شك راغي نوزه به تشوبولوته کینم اوبیا به خپله ځپلې جوړه وم څو ته به نیغ پخپله لارځې نه به ودریږي چي څوك پوه نه شي چي دا دده ملګري دي ،پدي ډول په حضرت علي (رض) پسي روان شواوډ رسول الله صلي الله علیه وسلم په خدمت کښي حاضر شو اودهغه سره یې خبري اتري وشوي اومسلمان شو ،څو رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته هدایت وکړ چي قوم ته لاړشه پټ مسلمان اوسه اسلام مه ښکاره کوه کوم وخت چي زموږ غلبه شي بیاراشه ابوذر (رض) ووېل چي زمادي په هغه ذات قسم دي چي دچا په قبضه کښي زما روح دي زه به کلمه ددغو کافرانو په مینځ کښي

(٧)مخ

دډاکتر حامد الغابد دسفرپه باب پوښتني اوځوابونه

باستادقریب الرحمن « سعید »
دوهمه برخه

دایران اسلامي جمهوریت هم دسولي په پروسه کي پوره دلچسپي لري، اوپه هغه ماښامي میلمستیاکي ني چي دجولاي په یولسم ماښام ني دهماهنګي عالي شورا اوددري یې طرفه تنظیمونوپه افتخاریه اسلام آبادکي کړي وه دایران سفیرمحترم اخونزاده ټولو اړخونو ته بلنه ورکړي چي تهران ته راشي اودسولي په پروسه همغلته بحث وکړي ،دایران دسفیردغه بلنه هم دهماهنګي عالي شورا اوهم دغه دري یې طرفه تنظیمونومنلي خوداتلافي اداري ځواب لاتراوسه پوري معلومه نه دي

هغه څه چي موږ ورته ډېره امیدواري لرو هغه ددغې دري تنظیمونوکاریبل دي.ځکه چي یرخودوي تنظیمومشران دبحران په عمق باندي پوه دي،دحل لارورته معلومه ده ، اوغته خبره داده چي هم مجاهدین دي اوهم افغانان . نوکه دوي رښتیاهم په اخلاص سره کاروکړي، په خپل کارکي سترتیامحسوس نکړي، نودکارنتایج به ني ډېرژرمعلوم شي، بل داچي ددي سره دهماهنګي دشوراتنسیق شوي اودمقابل لوري ددریځ دتنسیق په خاطرکارروان دي. موږ امیدلرو چي الله (ج) به دغه دامتحان دوره زموږدولس څخه لري کړي اوولس ته به دهغوي دارمانونومطابق دیواسلامي حکومت دجوړېت توفیق وریه برخه کړي .

سوال : داسلامي کانفرانس عمومي سکرترحامدالغابد دچاخوارالیرل شوي، اودراتګ اهداف ني څه دي ؟ په دي هکله معلومات راکړي ؟

ځواب : څرنګه چي داسلام آباد هغه ترون چي دهغي له مخي استادرباني د١٨ میاشتوله پاره دجمهوررئیس اوانجنیرصاحب حکمتیار د١٨ میاشتو له پاره دصدراعظم په توګه ټاکل شوي و، په ٢٨ دجون پاي ته ورسید اودهغي ترون تضمین کونکي هیوادونه پاکستان ، ایران اوسعودي عربستان وواواسلامي کانفرانس هم دهغي ترون دمونیدینوڅخه و اوهغه موادچي په هغي ترونوکي درج اولیکل شوي وو هغه پیاده نه شول اوترون په خپله دستونزو سره مخ شو، استادرباني ددي پرځاي چي دهمدي ترون له مخي واکمني یوي منتخبي اداري ته تسلیم کړي، دترون څخه دسرغړاوي په اساس اعلان وکړچي ٦ میاشتي واکمني یې نوره هم پاته ده اوددي اعلان سره سم دپاکستان حکومت دترون په بنسټ اعلان وکړ چي داسلام آباد دترون افادیت له ٢٨ جون څخه وروسته پاي ته رسیدلي، نوپه دي اساس د O.I.C سکرتر هم دخپل هماغه مسئولیت په اساس چي داسلام آباددترون له لوري وریغاره شوي وپاکستان ته سفروکړ اوهغه هم د٢٨ دجون څخه وروسته داسلام آباد دترون دافادیت دختمیدو په هکله ځرګندموقف اختیارکړاو دذکرشوي وخت وروسته ني په هیوادکي دبحران دپاي ته رسیدوپه خاطرجهادي تنظیمونو دمشرانو سره صلاح مشوري پیل کړي ترڅودبحران دحل په جهت کي کومك وکړاي شي.

څرنګه چي نوموړي سازمان دسعودي عربستان دحکومت څخه مستقیماً تغذیه کیږي نودلته دځینوخلکوتصورات داهم وو چي ممکن دنوموړي اداري منشي دسعودي عربستان لخواداستادرباني دحیثیت دپرځاي کیدوپه خاطرراغلي وي. ښاغلي الغابد دلته په پېښوراواسلام آبادکي دافغاني جهادي تنظیمونودمشرانو ،نمایندګانواوشوراګانو سره لیدني درلودي، پخپله الغابدچي دنایجیریا پخواني صدراعظم ویه خبره یوه اوهوښیارانسان دي، په دي اساس ني په لمړیو ورځوکي کوشش وکړچي دحزب اوجمعیت دهیئتونوترمنځ خبري پیل کړي ،بیاني هڅه وکړه چي دهماهنګي دعالي شورااوائتلافي اداري ترمنځ خبري پیل کړي ،خووروسته ني دتخنیکي ستونزوپه اساس دغه دواړه فکرونه یوي خواته پرېښودل اود یې طرفه تنظیمونو په طرحه ني غوراودقت شروع کړ. دهماهنګي دعالي شورا هیئت هم په خپله اخري غونډه کي چي دپېښورپه کانټیننټل هوټل کي په ١٣ دجولاي وشوه دلسرڅخه اوه تنظیمونوهغه طرحه چي ددوي پري توافق کړي وه د داسلامي هیوادو دکانفرانس سکرترته وارول ، چي هغه هم ورسره پوره دلچسپي ښوده .داسلامي کانفرانس سکرترغوښتل دخپل موجودیت په وخت کي په افغانستان کي یوموقت اوربند اعلان کړي ،خودهغوي داغوښتنه دهماهنګي دعالي شورا لخواپه دي خاطرونه منل شوه چي . موقت اوربندونه تل دستروسترو جنګونو دپاره اساس وي،موږدایمي اوربند ته اړتیالرو اودایمي اوربندهماغه وخت منځته راتلاي شي چي اوسني اداره منحل اوپه ځاي ني یوموقت نظام جوړېښت وموږي اوبیا دانتخاباتوله پاره زمینه برابره شي . اوس په داسي حال کي چي محترم الغابد په افغانستان کي اوپاکستان کي پوره مصروفي شپې تیري کړي بیرته جدي ته ستون شوي ترڅوددغه

(٧)مخ

اوهيڅ هيوادترتاثير لاندي ته راځي اوپه نړيواله سطحه دټولو هغو مظلوموهاو بي وزلو خلکوسره مرستي کوي چي يادجګړو له امله اوياهم دسيلابونو ، وچ کاليو اوداسي نورو پيښبوله امله زيانمن شوي وي .
ده ددي پوښتني په ځواب کي چي تاسو په افغانستان کي دتيرکمونست رژيم دواکداري په وخت کي له کومو خلکوسره مرستي کولي وويل : موږ دلته په داخل کي له هغوافغاناتوسره مرستي کولي چي دبهرنيو هيوادونو څخه بيرته افغانستان ته راستنيدل ، ده وويل موږتومورووخلکوته دخلورمياشتو لپاره خوراکي موادلکه غوړي، ووريجي ، لوبيا ،خيمي اوداسي نورشيان ورکول اوله هيوادته بهرموبيادهغومهاجرينو سره چي بيلابيلو کمپونو کي پراته ومرستي کولي چي دتيرکمونستي رژيم دظلم اووحشت له امله بهرته په پناه اخستلو اړشوي وو .
تومورې دبوي بلي پوښتني په ځواب کي چي تاسو په کوموساحوکي مرستي

په کابل کي نه حکومت شته اونه امنيت

ترسره کړي وويل : دااداره بيلابيلي ځانګي لري اوهري ځانګي ته ئي ځانګړي دندي سپارل شوي دي دمثال په توګه زمونږ ديو، اين ،سي ،اي،ايف ځانګه دښارونو دپاکولو په لاروچاروکي له ښاروالیو سره مرسته کوي .
دډبيليو ، ايچ ، او، په نوم ځانګه دعامي روغتيايه کاروتوکي فعاله ونډه لري اوهمدارازډبليو ، ايف ،في ، ځانګه ده چي هغومظلوموکسانوته چي دجګړي له ميدان اويادسيلابونوله امله تښتيدلي وي خيمي ،خوراکي موادډښاك وسيلي برابروي .
محترم عتيق الله ددي پوښتني په ځواب کي چي تاسودافغانستان په کومووولايتونوکي نمايندګي لري اوآيا دخپل کارپه ساحه کي له کومو ستونزو سره مخامخ شوي نه ياست ؟
وويل :موږ په کندهار،هرات ، مزارشريف ،بدخشان اودلته په ننګرهارکي دفترونه لرو اوپه تومورو ولايتونو کي دمرستو کارونو ته ادامه ورکوو خومتاسفانه چي په هرځاي کي وسلوال ګروپونه زمونږ دلاري خنډونه واقع کيږي ځکه موږ چي چيرته امنيت نه وي هلته هيڅ کار نشوکولاي او زمونږ دپروګرام مخه نيول کيږي .
ده وويل اوسنيو جګړواوقومي تعصبونو زمونږدکار ساحه ډيره تنګه کړي تردي اندازي پوري چي په کابل کي زمونږ نمايندګي ترل شوي اودکابل مظلوم ښاريان زمونږله مرستو څخه بي برخي دي .
ده ددي پوښتني په ځواب کي چي تاسويه کابل کي خپله نماينده ګي ولي وتړله وويل په کابل کي نه حکومت شته ، نه امنيت شته نه قانون شته ،هرځاي دکلاشنکوف حکومت دي نوموږ ددې خاطرچي هلته امنيت نشته موږ خپله نمايندګي ترلي ده .
ده وويل دابه تاسوته بهتره معلومه وي چي تيرکال دتورخم جلال آباد په لاره زمونږځني کارکونکي دوسلوالو کسانوله خوا ووژل شول له هغه وخته زمونږ اداري دننګرهارولايت په ساحه کي هم خپل فعاليت کم کړي اويوازي دسرشاهي کيمپ ، ثمرخيلوکيمپ اوداسي نوروخلکوسره چي دکابل له جنګ څخه راتښتيدلي مرستي کوي اوبس .
ده ددي پوښتني په ځواب کي چي تاسوله کابل څخه نويوراغلو مهاجرينو ته تراوسه څومره کومکونه رسولي ووېل موږيوازي دسرشاهي په کيمپ کي ۱۵ زره کورونو ته خوراکي مواد اوخيمي رسولي اوهم موداويورسولو لپاره ورته له ۸۰ څخه تر۹۰ ټانکرونوپوري موظف کړي چي هغوي ته اوبه ورسوي اوهغه ذخيري ورته ډکي کړي چي موږ ورته جوړي کړي دي .
ده ددي پوښتني په ځواب کي چي عام ذهن داسي دي اوځوورځي وراندي هم دمخدره موادو دمخنيوي په نوم کنفرانس کي دننګرهار والي اودختيزوولايتونودجهادي دشوراړئيس الحاج عبدالقديرهم وويل چي ملګري ملتونه چي دمخدره موادوپه نوم څه کار کوي فقط دخپلو مامورينودمعاش لپاره دي اوکته په حقيقت"هغوي هيڅ کارنه دي کړي تاسي پدي هکله څه وايي ، تومورې وويل ، که څه هم دمخدره موادوپه خلاف مستقلي اداري کارکوي اوزموږوظيفه دانه ده ، خوپه شخصي ډول زه دمخدره موادو دکرلو سره سخت مخالف يم اوله دي خبري سره هم موافق نه يم چي ګواکي ملګروملتو په دي هکله څه کارنه دي کړي ، ده وويل زموږ اداري دهيڅ حکومت ترتاثيرلاندي ندي خو ځيني خلك غواړي چي دااداري بدنامي کړي.
ده وويل چي که چيري په ننګرهارکي زمونږدکار مخي ته خنډونه ځوك پيداکړي نوموږ به خپل دفترونه دلته هم دکابل په شان وتړو . په آخرکي محترم عتيق الله په خپل پيام کي له ټولو جهادي تنظيمونو اوقوماندانانوڅخه وغوښتل چي ددوي سره دمرستو رسولو په کارونو کي همکاري وکړي .

درغباربی‌اعتمادی 6 هرمجلس‌صلح پیش خیمهٔ ...

ارتش کاملاً بيطرف ومتشكل ازهمه تنظيم هاباشد آن زمان متحقق است و بايد باتنظيم هاي ديگرنيز تفاهم صورت گرفته ، همه درساختار اردو نقش خويش را ايفانمايند وغي شود که تنظيم ها رابويژه کساني راکه طرف اصلي قضيه هستند ناديده انگاشت . هرگاه ديدي مبني برفراموش کردن ديگران رامبتكرين جلسه هرات داشته باشند ، گمان نمي رود که حتي يك قدم بجلوگام گذاشته بتوانند .
درمورد اشتراك نمايندگان مردم بايد عرض شودکه هيچکسي نمي تواند بنام نماينده مردم چه داخل وچه ازخارج درمجلسي واجتماعي اشتراك نمايدتاراي مردم را ازطريق انتخابات حاصل نکرده باشد .زماني فرد وياافراد ميتوانند درجلسات ازمردم نمايندگي نمايند که ازطريق انتخابات اعتماد مردم را حاصل نموده باشند ،نبايد بر مردم مسخره نمود، افراد واشخاص انتصابي خويش رابنام نمايندگان مردم جازد ودرشرايط فعلي تنظيم ها مي توانند که ادعاي نمايندگي نسبي مردم رانمايند. زيرا اکثريت مردم درتنظيم هاتقسيم مي باشند .
بهرصورت هيچ جلسه واجتماعي نمي تواند موفق گرديده صلح را درکشور به ارمغان آوردتا مورد تاييد وحمايت تنظيم هابويژه اطراف درگيرقرارنگيرد .

واد یازنده به ...

دربنوقت پيامبر(ص) درحالي که بسيارناراحت وپريشان بودواشك را ازچشم پاك مي کرد، فرمود :اگررحمت خدا برغضبش سبقت نمي کرد، لازم بودکه زودترانتقام ازتوميگرفت » .
علل وآغازاين پديده ناپسندزمان جاهليت :
علماودانشمندان درمورد علل وآغازاين عمل ناجايزمطالب متعدد را گفته اندکه هريك بصورت عليحده ذکرمي گردد .
۱- مورخين ميگويند :درميان دوقبيله جنگ آغازگرديده درنتيجه جنگ بنفع يك قبيله ختم شد.به رسم جاهليت قبيله فاتح علاوه ازمال ودارايي زنان ودختران قبيله مغلوب را باخود بردند. بعدازسپري شدن يك مدت بوساطت ديگران صلح وآشتي درميان همين دوقبيله جاي جنگ را احرازکرد وبرمبناي صلح توافق گرديدکه اسراء مستردگردد درحين استرداد اسراء دختران جوان قبيله مغلوب که باپسران قبيله غالب طرح دوستي کرده زندگي تازه را انتخاب نموده بودند. ازالحاق باپدران شان اباورزيدندوترجيح دادندکه باجوانان قبيله فاتح زندگي نمايند. اين حالت باعث وجدوهيجان مردان همان قبيله مغلوب گرديدکه دشمنان مادختران مارا براي مان مي سپارند، ولي دختران ازآمدن امتناع مي کنند اين برخورد دختران باعث ايجاد عقده هاگرديده پدران رامجبورساخت تادرآينده عوض اينکه دختران باچنين اعمال موجب بدنامي پدران گردند زنده بگورشوند. سپس درهمان قبيله رسم زنده بگورکردن دختران آغازگرديد .
۲- مردان زمان جاهليت زنان را باچشم حقارت نگريسته هيچنوع حق را براي شان قابل نبودند . شعراء آن زمان اگردخترزيبايي را ديده حسنش قابل تمجيدمي بود،بي باکانه باسرودن اشعارخلاف کرامت انساني ودور ازاخلاق وعفت،همان دختررابي پرده مي ساخت ، کسي راحقي نبودتاحداقل شعرايي که بچنين اعمال دست ميزدند توصيه نمايد وقانوني هم وجود نداشت که جلوهمچو حرکات واعمال شعراء را بگيرد .عده بي ازپدران باشنيدن اشعارقبيح درحق دختران شان رنج مي بردند ودرهرجامي شنيدند که به نام دختران شان اشعارسروده شده، بداخلاق ترين افراد درکوچه هاآنرا زمزمه مي نمايد. چون مرجع قانوني براي جلوگيري چنين بي بندوباري هاوجودنداشت که پدران مراجعه نمايند، روي اين،عده بي ازپدران بخاطر نجا ازهمچو بدنامي هاتصميم گرفتندتادرآينده دختران نوزاد را زنده بگورنمايند .
۳- خوف فقروتنگدستي : چون دختران توليدکننده نبوده، جز اينکه پدران قسمت هزينه مالي خويش را برانها مصرف نمايند، کدام مدرك عايداتي دروجود آنها ديده نمي شود، روي اين جهال عرب بمنظور رهائي ازباج مصارف دختران قصد نمودند تادختران نوزاد رازنده بگورنموده ازفقر وتنگدستي خودرانجات دهند، روي اين قرآن مجيد باصراحت لهجه ابلاغ داشت که : شما اولاد خودرا جهت خوف فقرمکشيد، حقيقت اينست که مصارف زندگي شما واولاد تان را خداوند (ج) ميدهد،نه آنکه شما بانيروي خود درحصول آن قدرت تام داشته باشيد، اگرخداوند رزاق باب روزي را برشما مسدود نمايد، کسي ديگري براي وفورنعمات مادي توانمندي ندارد .

دحضرت ابوذر...

په ځرګنده وايم ،فوراً مسجد حرم ته لاړ اوپه اوچت آواز يې وويل اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله دکلمي دويلو سره سم له څلورو طرفونه خلك راپورته شول اوهغه يې دومره وواهه چي سخت ټپي اومرګ ته نږدي شو. حضرت عباس چي مسلمان شوي نه و، دده دحمايت اوساتني لپاره په هغه باندي ځملاست اوخلکو ته وويل داځو دغفارد قبيلي يوسړي دي اودغه قبيله دشام په لارکي واقع ده اوستاسو دتجارت تله راتله هم په دغه لاردي نوکه داسړي مړشي ستاسي دتجارت لار به بنده شي اوتجارت ته به مو زيان ورسيږي په دي ترتيب دهغه دوهلو نه لاس په سرشول دغه مجاهد بيا په دويمه ورځ مسجد حرم ته ولاړ اوپه اوچت آوازيي دتوحيد کلمه وويله اوبيا پري خلك راپورته شول او ښه يې وواهه اوډيرتکليف يې ورته ورساوه بيا حضرت عباس وويل چي غلي شي د ستاسي دتجارت لار به بنده شي ،خلك چپ شول درسول الله صلي الله عليه وسلم دارشاد سره سره ابوذر (رض) خپل اسلام پټ نکړ دهغه داخيال و چي دا يو حق دين دي دچا دپلاراودنيکه اجاره نه ده چي له چا نه يې پټ کړم اودابوذر (رض) يو ديني جذبه چي دحق په اظهارکښي دمصيبت څه خيال ونه ساته درسول الله صلي الله وسلم منع صرف پدي خاطر وه چي ممکن که دي داسلام په ښکاره کولوتکليفونه ونه زغملاي شي يې صبري اختيارکړي که څه هم دپيغمبر صلي الله عليه وسلم له حکم نه دصحابي څه طاقت اومجال نه وي خو ابوذر (رض) دتابع داري خيال ونه ساته اودخپل ارام لاريي غوره نه کړه او دغو تکليفونو ته يې غاړه کينښوده دغه وجه وه چي په هرميدان بري په ورپه برخه و ، يو ځل چي به کوم مسلمان اسلامي جنډي نه لاندي شو نو بيا به دلوي نه لوي طاقت دهغه په مخکښي خس خاشاك و.

اسلام یک نظام کامل...

فکرنمي کنم اسلام به اين نظرباشد.
گرچه راجع به اسلام سياسي درمصر نظريات گوناگون است.لاکن نظرراجح ومقبول اين است که علميات ترور، وحشت، اختناق هيچ ربطي بااسلام ندارد وبلکه پديده هاي متذکره درحقيقت يك عکس العمل است درمقابل اوضاع ناهنجار سياسي حاکم برملت ها. وشايد اين حوادث درسائرکشورهاي غيراسلامي نيزتکرارشود که نمونه هاي آن زياد است.
مادرامريکاازعمليات تروروحشت مسلمانان زياد حرف مي زنيم ، درحاليکه ازثروات تمدني ،ديني، ثقافتي اسلام هيچگاه سخني نمي زنيم وما مصالح شخص مان را بانظريات عالمي مخلوط ساخته ايم . لازم است فراموش نکنيم که اسلام يك دين کامل حياتي وصلح جوبوده ودرطول صدهاسال به اين خط مشي اش باقي مانده است. شايد بعضي ازحرکت هاي جديدباعث خفقان ومشکلات شده باشد، لاکن نهايت ضروري است که اسلام رادرچوکات تاريخي اش که مستحق آن است ،مطالعه و ازقالب منفي گرائي خودخارج نمائيم .

هند دروس ...

مداخلي په مهال يې دهند دښمني اوموضعګيري هم له ياده وويسته او اوس لګيا دي له هند څخه دافغانانو دوژني له پاره هندي پوځيان اوجنګي سامان آلات راواردوي اودتيروکمونستو رژيمونو په څير دافغاني مجاهدينو له دښمنانو سره يې دمعامله ګيري تګلاره خپله کړي

هيئت سازمان ملل

برقدرت مخالف اند. اعضاي اين هيئت بادوتن ازرهبران تنظيم هاي حرکت انقلاب اسلامي ومحاذملي نيز ملاقات نموده است .کمافي السابق گفته ميشودکه اين هيئت ازخود طرحي نداشته امابنام تأمين صلح ميخواهدبارهبران جهادي وشخصيت هاي افغاني ديداروگفتگونمايد. مستيري وهيئت معيتي اش روزجمعه گذشته وارد اسلام آبادشده بود، وي درگزارش سفرقبلي خود ازافغانستان به سرمنشي سازمان ملل ،خواستارآتش بس دايمي وبرگزاري انتخابات آزاد درافغانستان شده بود .

دحامدالغابد دسفر...

مذاکراتونتايج معلوم اوبيادويم ځل بيا دوره وکړي .
خوداسي راته بريښي چي دمحترم الغابد سفريواځي يومعلوماتي سفرو اودادهغه دريم سفروي چي دافغانستان دبحران دحل په خاطرئي کوي،کيداي شي کوم نتايج چي دهغه په دي سفرمنتج کيږي مثبت اړخ ولري . موږدهغوي سره دهيواد دبحران دحل په خاطردهرډول تعاون وعده کړي .

نيروهای مشترك

درمنطقه طويل دره که حدفاصل ميان پاميروبقيه تاجکستان است پنجاه نفر ازسربازان وافسران دولتي به اسارت مبارزين مسلمان درآمده اند .اما مقامات رژيم دوشنبه هرگونه درگيري درين منطقه راتکذيب ميکردند .
اکنون که موضوع افشاشده گفته مي شودکه درگيري هايي که روزيك شنبه نيز جريان داشته، بخشي ازتلاش نيروهاي رژيم دوشنبه براي آزاد ساختن سربازان اسيرشده است .
اين سربازان درناحيه طويل دره واقع در ۱۵۰ کلومتري شرق شهردوشنبه موقعيت دارد، به اسارت مبارزين مسلمان درآمده اند . علاوه بر ۱۵۰ سربازيك عراده زرهپوش و چند لاري نظامي نيزبدست مبارزان افتيده است .
مبارزين ، اين حادثه را پيروزي بزرگي براي خودخوانده اند . متعاقباً گزارش شدکه دوتن از اسيران يادشده ازبازداشت مبارزين فرارنموده واسارت بقيه سربازان وافسران راتوسط مبارزين تاييد کردند . گزارش هاي اخيرحکايت ازآن داردکه رژيم تاجکستان عمليات گسترده اي را برضد نيروهاي مخالف اين رژيم آغازکرده است .
به گزارش يونايتد پرس نيروهاي دولتي تاجکستان مجهزبا وسايل نقليه زرهي وهليکوپترهاي جنگي ازروزيك شنبه عمليات جستجوبراي يافتن نظاميان مفقود الاثررا آغازکرده است .
گروهي ازمخالفان رژيم دوشنبه روزجمعه اين عده ازنظاميان را اسير نموده بودند .

اسماعيل خان ،دمسعود په ...

په دغه ورځو کي دپردو په اشاره اوداتتلافي اداري په هدايت په اصطلاح د هيواد د روانو ستونزو دحل اودرباني دبيا تپل کيدو لپاره يوه قلابي غونډه جوړه کړي اوپه هغه کي يې اخستل شوي يې نوم اونشانه خلك يې راغونډ کړي چي زياتره برخوال يې دجمعيت اوداتتلافي اداري منسوبين دي . هغه غواړي چي لدي لاري يوځل بيا رباني صاحب اويا بل ځوك په هيواد والو وتپي حال داچي دهرات دغونډي برخوال نه دخلکو له خواټاکل شوي او نه پريکړي دقبول وړدي ځکه داسي غونډي چي په هغه کي دهيواد والو ټاکل شوي نمايندګان برخه ونه لري اود بيګانګانو له خوا ځارل کيږي داسي غونډي به د نورو غونډو پشان شنډي اوبي ثمره وي اوملت ته به دمنلو وړ نه وي.
موږ په داسي حال کي چي دغي غونډي ته دشك په سترګو ګورو هيله لروچي تورن اسماعيل خان دمسعود په څير دملت په سرنوشت لوبي ونکړي اونه خپل سردنورو په شان دتل لپاره دهيواد والو په وړاندي ثبت کړي . داملت مجاهد ملت دي اودهروطن خرڅوونکي او اولس غولونکي سره به خامخا په راتلونکي کي حساب کوي.

په بوسنياکی ...

راوري چي دبالکانو لپاره دسولي داوروستي پلان ومني خو دا حقيقت هم بايد له پامه ونه غورځول شي چي د سولي لپاره د بوسنيا دصربانو له تشويقولو څخه هدف دادي چي دبوسنيا دويشلو دنقشي دعملي کولو لپاره زمينه مساعده کړي اوپه واسطه يې اووه ويشت مياشتني جګړي ته خاتمه ورکړي. خو دا هم چندان موثر نه ښکاري ځکه ترکومه چي معلومه ده اکثربوسنيايي مسلمانان په دي ويش خوښ نه دي او دادځان په باب يو ډول ظلم ګڼي چي دا به د جګړي داوږيدو باعث کيداي شي.

دهرات په غونډه

ځواب کي چي ستاسي دائتلاف کارترکومه ځايه رسيدلي آوڅه کول غواړي په داسي حال کي چي اوس محمود مستيري بياروان دي افغانستان ته ځي نوتاسي کومي نتيجي ته

خوازه ترخه

يوه پوښتنه
بي طرفه (؟)

عبيدالله ايمل

نن سبازمونږپه هيوادکي دجګړي اوصلحي ترڅنګ يوه نوي اصطلاح راپيداشوي چي بي طرف اويا په جګړه کي نه دخيل قوتونه بلل کيږي .همدي قوتونواوس دهيواد په سطحه دسولي نوي پروګرام په کاراچولي، زياتباسي چي داسي طرحه راوواندي کړي چي ټولو اوپه ځانګړي توګه په جګړه کي دراګيرو اړخونو لپاره دمنلووړاوپه عامه توګه عملي بڼه ولري . دهمدغو تنظيمومشران په دي لټه کي دي چي ملګري ملتونه اوداسلامي هيوادوکنفرانس سازمان هم له خپل ځان سره ملګري کړي .
داچي دغه محترم شخصيتونه چي په ١٤کلن جهادکي نوم اونښان لري اوس يې په هيوادکي دسولي هلي ځلي پيل کړي واقعاً دقدروړدي اوزموږ دعاداده چي خداي دي دغه هڅي دواقعي سولي په راوستلومنتج کړي،که چيري زموږدغه مشران په اخلاص ګامونه اوچت کړي نوالله تعالي به يې اجرونه هم نه ضايع کوي، موږيدي هکله چي دادسولي زياريه څه نتيجه ورکړي اويا به دنورو په سرنوشت اخته شي، څه ويل نه غواړو اونه تبصره پري کوو خويوازي دومره پوښتنه کوو دغوشخصيتونو چي داهلي ځلي يې پيل کړي په مجموع اودتنظيم په حيث بي طرف دي اوکه يوازي دتنظيمونومشران يې ؟ ځکه زموږپه هيوادکي دنورواصطلاحاتوترڅنګ « بي طرف » هم ځانته نوي رنګ غوره کړي دي .
يووخت به بي طرف اويانابيبيلي هغه چاته ويل کيده چي ددوو متخاصمواړخونوترمنځ به په بشپړه توګه بي غرضه و، هيڅ داسي عمل اوياوينابايدونه کړي چي يوه پلوته پري ګته رسيږي ، روابط اواړيکي بي هم له دواړوخواوسره دوستانه وي. خودزماني په تيريدوسره دااصطلاح دچاخبره لږمترقي اوترڅنګ يې يوبل ترکيب «مثبت » هم راپيداشويعني «مثبته بي طرفي » رامنځته شوه ، دغه بي طرفي اصلاً دبي طرفي په پرده کي ديوطرف پلوي وه پدي تفاوت چي له بل لوري سره يې هم څه ناڅه اړيکي اوراشه درشه درلودل . خوزموږدبي طرفو تنظيمونوحال بيخي بل ډول دي، سړي نه پوهيږي چي ديته څه ډول بي طرفي ووايي، نيمه بي طرفي (موقتي بي طرفي) اوکه «يوازي دمشربي طرفي » ځکه همدااوس دغه مشران چي دبي طرف اوپه اصطلاح منځګړي په حيث دسولي هلي ځلي کوي،قوماندانان يې دجګړي په محاذکي له يوي يابلي خواسره دريدلي،ان تردي چي په يوه سيمه کي له يوي خوا اوپه بله کي بياله بلي خواسره سرخوزوي .
دتنظيمونومشران درباني واکمني غيرقانوني بولي خوغوره اولوړرتبه کسان يې همدااوس هم درباني وزيران اوجنرالان دي او فعالترين يې دي .تردي اخواهمدغومشرانو دهرات غونډه بائيکاټ کړه خوپه دي تنظيمونو پوري مربوط ځيني قوماندانان پکي شريك دي، ورته هلي ځلي کوي، اودي کاردرباني ائتلافي اداري ته يوه تبليغاتي حربه په لاس ورکړيده .
همدغه خبره ده چي ددي مشرانو هلوځلواوزيارته هم دشك په نظرکتل کيږي ، نه پوهيږو چي ربښتياهم دابي طرفانه هڅي دي اوکه ديوتکتيك په حيث کارول کيږي . بله داچي اوس له خلکو څخه داورکه ده چي دي تنظيمونوته څه خطاب وکړي بيبلي اوکه ناپيبلي ؟ پداسي حال کي چي په دي يوه چوکاټ کي هم نه برابريږي . پرته له دي چي نوي اصطلاح ورته پيداشي اوهغه داچي «مشريوطرف، کشربل طرف اوپه جنګ کي بي طرف »
په هرصورت ددي لپاره چي ددغومحترمومشرانو هلي ځلي هم بي نتيجي پاتي نشي نوبکارده چي دي ټکي ته هم څه توجه وکړي، خپلوافرادو ،قوماندانانو ، او مربوطو کسانوته توصيه وکړي چي دخوناچلوبيسو په مقابل کي خپل اودتنظيم حيثيت ختم نه کړي اسلامي اصولو مطابق چلندوکړي، ياواقعاً بي طرفه شي اويا دهغه جانب ترڅنګ ودريږي چي دحق لوري يې نيولي ، پدي کي هم دخداي رضا پرته ده هم دجګړي دختميدوامکان شته اوکنه په متزلزل اوغيرمشخص دريځ سره به تنظيم هم خپل حيثيت له لاسه ورکوي اوافراديي هم .

دهرات په غونډه ...

ته ژمنه ورکړې وه چي که ټول مشران دغي غونډي ته ورتلل موږهم چمتويوچي په دي غونډه کي ګډون وکړو مګراوس چي دجهادي مشرانو څخه يوتن هم دي غونډي ته نه دي ورغلي نوله همدي امله موږپه دغه اجلاس کي ګډون نه دي کړي .
هغه ددي پوښتني په ځواب کي چي اوس دهرا ت جلسي په سلوزروعسکروباندي مشتمل ديوه ملي اردو اودلوي جرګي دراپللو تصويب کړي دي ستاسونظريه دي هکله څه دي وويل : داچي دافغانستان په روانوجګړو کي رانبکيلوخواو دهرات په غونډه کي ګډون نه دي کړي له همدي امله موږ عقيده لرو چي دهرات داغونډه دافغانستان ستونزه نشي حل رسيدلي ياست که نه وويل موږخوالحمدالله په دي باورلرو کوم اقدام چي دغودريو تنظيمونو کړي دهغي په پياوړيتوب باندي مصروف يوچي اکثر جهادي تنظيمونو هم زمونږ ددي هلوځلو ملاتړ کړي اوموږته ئي واك راکړي چي ددوي له خوانه هم کولي شو کميسيونونه جوړکړو اودبوي جرګي دجوړولو له پاره فعاليت وکړو .
کولاي اودملي اردو جوړول دټولو اړخونو په خوښه جوړيداي شي خوپه يوازي سرڅوك ملي اردو نشي جوړولاي . ده زياته کړه دلويي جرګي په هکله بايد ووايم چي لويه جرګه کولي شي دافغانستان ستونزي ته دحل لاره پيداکړي خوپه دي شرط چي په جرګه کي دافغانستان دګوډ ګوډ اودهري قبيلي نمايندګي برخه واخلي لويه جرګه داسي نه وي چي څلورياپنځه کسان سره کښيني اوفيصلي وکړي .
ده وويل چي پخوانيوتجربوداثابته کړي ده چي داډول جرګي دافغانستان دروانومشکلاتو دحل په برخه کي څه نشي کولي .
هغه ددي پوښتني په ځواب کي چي ستاسويه نظرآياداغونډه چي اوس په هرات کي روانه ده کولاي شي چي دافغانستان اوسني بحران حل کړي وويل داچي په دي جلسه کي دتنظيمونو مشرانوبرخه نه ده اخيستي اوترټولومهمه خبره داده چي په دي غونډه کي په جګړه کي شاملي خوا ګډون نه لري نوله همدي امله زه فکر کوم چي داغونډه ياجلسه به بريالي

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

شماره مسلسل (۸۱۵) سه شنبه (٤) اسد ۱۳۷۳ هـ ش

احکام دین خود را بیاموزیم

دڅاډاوبو دپاکولو احکام

که چېري په یوڅاګي نجاست ولوېږي نوداوبودراایستلو په ذریعه پاکېږي .

۱- که په څاګي موږك یامرغۍ یاکرېږي یابل دېته ورته ورو کي شي مړه شول نوله څاڅخه دي له ۲۰ څخه تر ۳۰ پورې پاسطلونواوبه راوایستل شي .

۲- که کوتره ، چرګه ، پیشواودېته ورته بل شي په څاګي مړه شول نودټولوبېشترڅخه ترڅلوېښتوپورې ولچې پاسطلونواوبه دې تري راوایستل شي

۳- اوکه سپی ، میږه اویاانسان یکي مړه شول نودڅاټولي اوبه دي راوایستل شي وچ دي کړي شي که فرضاً په څاګي چینې دي اووچېدل یې ممکن نه وي، بیادي په هغه اندازه اوبه له څاڅخه راوایستل شي څومره چې په څاګي ولاړي دي .

امام محمد(رح) وایي چې له ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ پورې ولچې پاسطلونه اوبه دي تري راوایستل شي اوبیل قول داسي دي چې دڅاداوبودحجم په اندازه دي هغومره ځاي ژوکړي شي ترهغه پورې دي له څاڅخه اوبه راوایستل شي ترڅوداځاي وله شي .

٤- که چېري په څاګي مړموږك اویابل شي پیداشي اوداخبره معلومه نه وي چې کله په څاګي لوېدلي ،پداسي حال کي چې پړسېدلي اوړېدلي نه وي، نوهغه چاچي ددي څاګي اوبه استعمال کړي وي باید دیوې ورځي اوشپې لمونځونه بیرته وګرځوي اوټول هغه شیان دي له سره پرېمنځي چې دغه اوبه ورته رسیدلي دي اوکه چېري مړه شوي وي پړسېدلي اویاړیدلي وي نوبیا دي ددریو ورځواوشپولمونځونه راوګرځول شي .

فرمان الهي

پس قسم به پروردگارت که ایشان مسلمان نباشند تاتراداورکنند دراختلافي که میان ایشان واقع شد و باز نیابند دردل خویش از آنچه حکم فرمودي دلتنگي اي راو قبول کنند آنرا بافرمانبرداري .

نساء (۹۵)

ارشاد نبوي

از ابوهریرة رضي الله عنه روایت است که : رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمود : آنکه بدعوتي هدایت کند ،درست مزد آنکه را که از وي پیروي کند در مي یابد ،بدون اینکه ازمزدش چیزي کاسته شود، وآنکه بگمراهي دعوت کند بروي گناهیست مثل گناهان اینکه از وي پیروي کردند ، واین امر ازگناه شان چیزي نمي کاهد .

(رواه مسلم)

دائتلافي اداری دوحشیانه بمباری په نتیجه کی(٤) کسه ښځی اوماشومان ټپیان شول

کابل – دزمري ۳ مه :

له کابل څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چې دروان کال دزمري دمیاشتي په درېمه نیټه له غرمي مخکي دائتلافي اداري کمونستو پیلوټانو دچهارآسیاب ولسوالي شاوخواکلي په وحشیانه توګه بمبارکړل ددي بمباري په نتیجه کي ٤ ښځي اوماشومان ټپیان او ځوکوروونه له خاورو سره خاوري شول .

خبریال لیکي پدي بمباري کي چې ځودقیقي ني دوام درلود دکلیوالوخلکوګڼ شمیرخاروي هم ووژل شوي اوهم دکروندي ځمکي ویجاړي اوحاصلات وسوځېدل .

دهرات دغونډي له نتایجوڅخه ماته دوینوبوي راځي

دهرات غونډي ګڼ شمیربرخوالودرباني څخه وغوښتل چې قدرت دجهادي تنظیمونویوکمیسیون ته وسپاري

هرات – دزمري ۳ مه :

دهرات دغونډي برخوالو وروسته له پنځه ورځو خپلي پریکړي اعلان کړي امریکاغږراديو خبریال په خپل ریوټ کي وایي چې دپریکړه لیك په دوهمه ماده دغونډي دبرخوالوترمنځ اختلاف راپیداشول اوپه همدي وخت کي دافغانستان پخواني صدراعظم داکتریوسف وویل چې ددي غونډو له نتایجو څخه ماته دوینوبوي راځي اوداغونډه دملت غاېندګي نشي کولاي .

داکترمحمدیوسف

په یوه بل خبرکي ویل شوي چې دجمعیت مشر رباني هم غونډي ته ورغلي وو ترڅوهلته دغونډي برخوالوته ویناوکړي خودغونډي دبرخوالو داختلافاتوپه وجه دغونډي ځاي ته ورداخل نشو.

بخاطرپیدانمودن اسراي نظامي :

نیروهای مشترك روسی وتاجکی ،عملیات گسترده علیه مبارزین رابراه انداخته اند

دوشنبه – ۲ اسد :

درگزارش هاي رسیده ازتاجکستان گفته شده که نبرد میان مبارزان مسلمان ونیروهاي هوادارزریم دوشنبه درمنطقه اي میان کوهاي پامیرویقیه تاجکستان ادامه دارد .

به گزارش خبرگزاري ها منابع نظامي تاجکستان اکنون در اظهارات خصوصي شان اظهارداشته اندکه تعدادي ازقطعات نظامي شان به اسارت مبارزین درآمده است، امادر محافل رسمي شان این واقعه را همچنان پنهان میدارند .

منبع میافزاید :مبارزین مسلمان تاجك مدعي پیروزي بزرگي اندوبه احتمال قوي ارتش مشترك روسي ، تاجکي درین کشو به حملات تلافي جویانه اقدام خواهد کرد .

رژیم متشکل ازکمونست هاي شکست خورده که دوسال پیش به کمك نظامي روسیه مجدداً به قدرت رسید، هیچگاه برمنطقه پامیرسلطه نظامي نیافته است، درگزارش هاي قبلي به نقل از مقامات مبارزین اسلامي گفته شده بود

ص (۷)

بقیه سرمقاله

تحت قوماندہ اسماعیل که درحقیقت اودرنتیجه تلاش هایش خودرا وزیردفاع جازده ونیز تاکید وپافشاري طرفداران رباني بخاطرابقاي وي براي دوره' موقت به کرسي اقتدار وفیصله' برخورد شرعي وقانوني به زعم ائتلافیون ،باراهگیران وملیشه هاو همه وهمه به این ضرب المثل مصداق داشت که درجلسه هرات بازهم مانندگذشته دم خررا اندازه کردند که نتیجه اش همان یك وجب بیشترنبود ! یعني درجلسه هرات بازهم فیصله هاي گذشته را ابرام نمودندکه اسماعیل خان وزیردفاع ، وورباني رئیس جمهورهردوازجمعیت باشند ! آنچه که ازابتدا تاالحال مایهٔ اصلي اختلاف میان رهبران جهادي بودوفعلاً هم است . اینست که گروههاي جهادي روش انحصارطلبانه و جمعیت سالاري ائتلافیون راقبول ندارند وبایست باوضع یك سلسله قواعدوضوابط وبادرنظرداشت کمیت سهمگیري گروههادرجهادوکیفیت نفوذ هرتنظیم در میان ملت وبااحساس رواداري واخوت وانصاف،میکانیزم حکومت مؤقت اسلامي که درفرداي آن براي ایجاد حکومت منتخب کارسازي مي شود، پایه گذاري مي گردید .

مگرباتاسف که یگانه فرق جلسه هرات ازشوراي حل وعقد قلابي دوسال پیش همینقدراست که دراول مسعود وزیردفاع ، استادرباني رئیس جمهوروباقي اعضاي حکومت حسب الخواهش سران ائتلاف تعیین شدند، مگردرجلسه هرات اسماعیل وزیردفاع ، استادرباني رئیس جمهوروصلاحیت تعیین وزرا وسایر اراکین دولت بازهم به سران ائتلاف واگذارشد .

جلسه هرات بحدي مضحکه خیزاست که رباني به زبان مي گویدکه من دردوره مؤقت کاندید ریاست نیستم، مگرهواخواهان اودرجلسه هرات یکصدا دربرابراین فیصله که دردوره' مؤقت ازجمله رهبران کسي رئیس جمهورنباشد،ایستاده مي شوند وبابراه انداختن سروصداو ایجاد تشنج برادامه ریاست رباني تاکیدمي نمایند . نفاق ورياکاري سران ائتلاف بحدي است که خودشان ملت را مي فریبند که ما دردوره' موقت ریاست نمي خواهیم ، بصورت غیرمستقیم هواخواهان شان تحریك مي شوند که براي یك لحظه هم نباید رباني ازکرسي اقتدار دورشود، آنچه که عامل اصلي بحران وخونریزي درافغانستان میباشد، ولي این فتنه گران تشنه قدرت باگزینش اطواروحرکات نمایشي وقلابي مختلف ازخودمیخواهند که مردم را بنام شوراي انعقاد سمینارواجتماع ومیزباني بفریبند تا ریاست وباداري خودرا کماکان السابق برملت تحمیل نمایند.

اخبارکوتاه جهان

دهند داتراپردیش په ایالت کي دکولرا دناروغي دلګیدو له امله له (٤٠٠) کسانو څخه زیات خلك وژل شوي دي.

خبري منابع وایي چې نوموړي ناروغي په چټکتیا سره روانه ده اوددي احتمال شته چې دډیروخلکو دوژلو سبب وګرزي.

***

اعتصاب سراسري درنیپال که بدرخواست شش گروه مخالف دولت صورت گرفته است اموراداري ، تعلیمي وتجارتي این کشور را بحالت فلج درآورده است.

به گزارش خبر گزاري آلمان ، یك جناح کمونست با شش گروه چپگراي دیگر ،این اعتصاب را دراعتراض به تصمیم پادشاه نیپال مبني بر منحل کردن مجلس عوام اعلام کرده است.

***

وزیر تعلیمات عالي سوریه که مصروف باز دید از ایران است ، بعداز امضاي یادداشت تفاهم بامقامات ایراني بروز یکشنبه گفت : این یاداشت فضايي باز تر از گذشته براي گسترش همکاري هاي علمي ،آموزشي وتبلیغاتي بین مراکز تعلیمات عالي ایران وسوریه ایجاد مینماید.

***

دایټالیا پولیسو د هغه هیواد صدراعظم دخصوصي نشراتي کمپني دوه رئیسان درشوت اخستلو اوخیانت په تور ترتعقیب لاندي نیولي دي.

خبري سرچیني وایي چې ایټالیوي پولیسو پدي وروستیو کي درشوت خورو په خلاف خپله سخته مبارزه پیل کړي ده .

***

روز یکشنبه درالجزایر اعلام شد یك تبعه ایتالیایي همراه باخانواده اش درالجزایر مفقود شده است.

به گزارش اسیوشتیدپرس موتروي درشهر برلیان بدون سرنشین پیدا شده است. هنوز مفقود شدن این خارجي را هیچ منبع رسمي تایید نکرده است.

***

دهند په شمال دجهان آباد په کلي کي له یوي کورني څخه (٥) کسه ووژل شول.

دهند خبري آژانس ویلي چې نوموړي کلي ته دوه وسله وال کسان ورننوتلي اودیوه مخور کلیوال په کورکي یې داکسان وژلي دي دپیښي علت تر اوسه ندي معلوم .

***

پولیس ایتالیا روزیك شنبه ۹ نفر ازجمله دونفر از مدیران رسانه هاي گروهي متعلق به نخست وزیراین کشور را به اتهام فسادمالي درمیلان دستگیرکرد .

روابط دولت وپارلمان این کشوربه دلیل اختلاف نظربرسرحدود اختیارات مقامات قضايي براي دستګیري متهمان به فساددچارتنش شده است.

دالجزایر پولیسو یومسلمان په شهادت ورساوه

الجزیره دزمري (۲) مه .

دالجزایر دنظامي حکومت په اصطلاح امنیتي ځواك یومسؤل ویلي چې ددوي قواوو هغه مبارزمسلمان شهید کړي چې دحکومت دیومعتبري آژانس دژورنالست دقتل الزام پري لګیدلي و.

دغه منبع وایي امنیتي قواوو دغه شکمن مبارز مسلمان دیوسوداپه ښارکي لږ ساعت وروسته له هغي چې په همدغه ښارکي یوژورنالست ووژل شو دتیري پنجشنبي په ورځ په شهادت ورساوه.

دالجزائیر خبري آژانس وایي چې دغه وسلوال مسلمان دهغویه سلهاوو بندیانو دولي غړي و چې په زندان باندي له یوي حملي وروسته تښتیدلي دي.

آتش بس دربوسنیا نقض شد

سرایوو – ۲ اسد :

باتشدیددرگیري ها دربوسنیا آتش بس اعلام شده ، درین جمهوري درموارد متعددي نقض شد .

به گزارش خبرگزاري فرانسه سخنگوي نظامي سازمان ملل متحد، محل این درگیري هارا درمناطق شمال وغرب بوسنیا عنوان کرد .

گزارش دیگري نیزازبوسنیا حاکیست : نیروهاي انگلیسي سازمان ملل درمرکز این جمهوري روزیك شنبه به حالت آماده باش درآمدند .

به گفته سخنگوي نظامي سازمان ملل این اقدام درپي گلوله باران مواضع نیروهاي انگلیسي سازمان ملل درین منطقه وتشدید درگیري میان نیروهاي دوطرف صورت گرفته است . درمورد تلفات احتمالي این درگیري هاگزارشي منتشرنشده است .

علیه لایحه محاکم جنايي انگلستان تظاهرات صورت گرفت

لندن – ۲ اسد :

روزیکشنبه هزاران نفر درخیابان هاي مرکز لندن دراعتراض به لایحه محاکمات جنايي دست به راهپیمايي وتظاهرات زدند .

به گزارش راديوي انگلیس ،قراراست این لایحه دولت تادوپاسه ماه دیگربصورت قانون درآید. صدها نفر ازافراد پولیس تظاهرکنندگان معترض پرچم بدست را ضمن راهپیمايي شان درجاده ها همراهي کردند .

مایکل هاورد وزیرداخله انگلستان که مسئول تدوین لایحه محاکمات جنايي است، میگوید : این لایحه درحکم ، مجموعه جامعي درامرمقابله باجنایت است، ولي مخالفت با این لایحه خیلي شدیدبوده است ،حتي بعضي از قضات بلند پایه به بخشي ازلایحه اعتراض کرده اند که هدفش تغییرمقررات حاکم برحق السکوت وپاسخ نگفتن متهمان یا بازداشت شدگان هنگام بازجويي وتحقیق توسط پولیس است .

ازطرف دیگربعضي ازجوانان باپیشنهادهایي مخالفت ورزیده اندکه هدف ازآن منع قانوني اقامت درساختمان هاي خالي یاجاده هااست . این لایحه دربرپايي تظاهرات هم محدودیت هایي راوضع نموده است .

هندي اشغالګرو ځواکونو په نیول شوي کشمیر کي دمجاهدینو یومشر"بشیراحمد" نیولي دي .

سرینګردزمري (۲) مه

هندي اشغالګروځواکونو په یوه ویناکي ویلي چې دوي په نیول شوي کشمیر کي دجهاد ځواك په نامه دیوي مبارزي ډلي یو سترقوماندان بشیراحمد چې په جمال الرحمن مشهوردي نیولي دي.

خبري منابع وایي چې نوموړي سرینګر ته نږدي دیوه بل ملګري سره یواځي نیول شوي دي داديوه کال نه په کمه موده کي دجهاد ځواك دډلي دریم قوماندان دي چې دهندي اشغالګرو ځواکونو له لوري نیول کیږي.

هندي منابع څرګندوي چې دتېرې سرینګر کي دېلتېږي په وخت کي دحزب المجاهدین اودحزب الله دډلي (٥) کسه په شهادت رسولي دي.

دماشوم دجادي ؟

پیښور دزمري (۳) مه

له پیښور څخه د شهادت خبریال خبر راکوي چې دروان کال دچنګاښ دمیاشتي په ۲۱ مه نیټه یوه سپین ږیري سړي چې د(۵۰) کلونو په شاوخواکي عمر، لنډه ږیره اومیانه ونه یې درلوده یودري نیم کلن ماشوم یې دپیښور ښارپه فردوس چوك (آزاد هټه اشرف روډ کي یوه افغان مهاجر محمد الدین دوکاندارته پرې ایښي دي خبریال لیکي نوموړي سړي په دې نامه چې ګویا له څو دقیقو وروسته به خپل ماشوم بیرته له ځانه سره یوزي هغه دکاندار ته تسلیم کړي خودادي دوي اوني کیږي چې هغه سړي بیادماشوم دبیولو لپاره ندي ورغلي اوماشوم لاتراوسه دمحمد الدین سره دي .

سره ددي چې محمد الدین نومي دوکاندار د پولیسوماموریت ته هم خبرورکړي خوتراوسه دماشوم خپلوان ندي پیداشوي ماشوم چې ژبه یې هم نه ګرزي په نیمه ژبه داسي وایي چې ګویا زیور خان نومیږي اومخکي په کوم کیمپ کي اوسیدلي څکه چې داپیوډګي یادوي .نوموړي ماشوم که څوك پیژني اویایه دي موده کي دچاماشوم ورك شوي وي نویدي پته یې ترلاسه کولاي شي.

پیښور . فردوس چوك .آزاده هټه ،اشرف روډ محمدالدین دوکاندار یادنوشو جومات لویدیز لور ته دنورمحمد دفوتوستیت دوګان .

تصحیح

په تېره ګڼه کي په یو خبرکي ویل شوي چې په زامبیا کي کودتا وشوه ،پداسي حال کي چې کودتا په زامبیا کي نه بلکي په ګامبیا کي شویده .هیله ده چې لوستونکي یه دا اصلاح کړي .

شهادت

بیانګرعقایدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : المجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ

تحت نظرهیئت تحریر

پست بکس : ۱۰۳٦یونیورسټي ټاون پیښاور

آدرس : جلال آباد چکنوری

حساب بانکي:۸٥۲٦٤ دافغانستان بانك

تلیفون : ۲۹۲٦

عونده دقرآن عظیم الشان دځومبارکو آیاتونویه تلاوت پیل شوه .

له غونډي نه وروسته دامام ابوحنیفه (رح) دنوي حلقي مسئولین پدي ډول وټاکل شول.

وورومحمداسمعیل نصرت نیازي دناظم په توګه

وورولطف الرحمن لایق دمرستیال په توګه

وورو عبدالله نیکمل دارتباط دمرستیال په توګه

وورو ګل محمد حنیفي دفرهنګي مسئول په توکه

وورو اعراب الدین «زاهدي » دامنیتي چارودمسئول په توګه .

دمرحوم دکورني له طرفه اخستل کیږي دوستان دي خبروي .

په پیښورښارکي دتیرکمونست رژیم یوه ګروال ووژل شو

پیښور – دزمري ۳ :

له پیښورښارڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي چې دروان کال دچنګاښ دمیاشتي په ۲۹ مه نیټه د پیښور په نوتیه نومي بازارکي دتیرکمونست رژیم یوه ګروال چې داود نومیده اودکونړولایت دنورګل اوسیدونکي دي له خپل کمونست باډیګاردسره یوځاي دنامعلومو کسانوله خوا وژل شویدي .

دیوه بل خبرله مخي ویل کیږي چې دتیرکمونست رژیم یوبل پاتي شوني چې په پیښورکي ني دفحاشي دنده په غاړه اخستي وه دچنګاښ په ۲۸ مه نیټه وژل شوي دي .

په کچه ګړي کي دابوحنیفه (رح) په نوم دمحصلینو نوي حلقه جوړه شوه

پیښور – دزمري ۳ :

دپیښورښارته څېرمه دکچه ګړي له کیمپ څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چې دروان کال دچنګاښ دمیاشتي په ۲۸ مه نیټه دکچه ګړي په دوهم نمبرکیمپ کي دمحصلینو دیورددحوزي له خوایوه درنده غونډه جوړه شوه .

- اعلان -

د نصرت خطاطۍ کورس دخپلې درېمې دورې لـه پاره په مختلفو سویو کې شاګردان قبلوي. هینه وال دِ داسد دلومړۍ نیټې څخه هره ورځ د ثبت نام لـه پاره پـه لاندې پته تشریف راوړي.

پته : بورډ- ناصرباغ روډ کوځه د التقوٰی تعلیمي مرکز لـه امونو اداره.

دفاتحي اعلان

دپکتیاولایت دځدرانودقوم مجاهدقومي مشراوزړور مجاهد شیرمحمدخان دغازي ببرك خان زوي چې جنازه ئي مخکي په خپله پلرني هدیره کي خاورو ته سپارل شوي دمرحوم دفاتحي مراسم ئي دروان کال دزمري (اسد) میاشتي په ٦ مه نیټه چې دجولاي دمیاشتي له ۲۸ مي سره سمون خوري دپنجشنبي په ورځ دسهارله ۹ بجوڅخه دغرمي تر۱۲ بجوپوري په ارباب روډ بلال لین – دبلال په جامع جومات کي

موثرترین معالج ریزش موي

تیل (Tower Hair Regrowing Oil) موهاي شما را دراز ،نرم ودرخشنده نگه مي دارد.

تیل مذکور خشکي موها رادورساخته ازریزش آن جلوگیري مي نماید. همچنان استعمال مسلسل این تیل ازطاسي مکمل سرجلوگیري نموده پیداشدن موخوره راخاتمه مي دهد.

مراکز فروش :

۱ – اقبال برادرز،خیبربازار پشاور.

۲ – رحمان بابا درملتون ، چوك مخابرات شهر جلال آباد .

۳ – سرحد میډیسن اینډ جنرل ستور سوپرمارکیت حیات آباد .

٤ – کابل میډیکوز،بورډ.

٥ – فوجي سهتي لیاقت بازارپشاور صدر.

٦ – کفایت کاسمیټکس،المتاز پلازه پشاورصدر.

۷ – رفاقت جنرل ستور،باره ګیت پشاور.

۸ – قریشي درملتون وچ نهر شمشتوروډ.

۹ – احمد زي درملتون باغبانان .